# دافغانستان انتقالی اسلامی دولت
# دافغانستان بانك

اوله حصه الف-عمومی مقررات اوتعریفات

§ ۱.۱.۱ صلاحیت
دامقرره دجواز لیك،تنظیم کول او دباندیني اسعارو معامله کوونکو نظارت په تعقیب دهغه اختیاراتو تیاره شوی چه دافغانستان بانك ته ددی دقانون ۷۷ مادی لاندی ورکړای شوی.

**§ 2.1.1 معا فيات**
هغه کسان چې په دې باو ر لري چې دهغوې د کا رو باردما هيت او کچې په وجه، يا دهغو ی د اصلي ډوله مشتريانو په و جه دوي د قانون او دغو مقرراتو په پيروې مجبور نه دي ، د افغا نستان بانک د قانون د ۷۷ (٤)( C ) ما دې پر بنا کو لی شي چې د معا فيت د پا ره درخو است ورکړی . دغه ډول کسان با يد په ابن سينا وا ټ ، کا بل، افغا نستان کي د افغانستان بانک د اجراېې هيئت سره در خواست ثبت کړي. معا فيات يو ازې د افغا نستان بانک د اجرايه هيئت لخوا ور کو ل کيږي . درخواست با يد داسي با وري معلو مات ولري چې اجرا يه هيئت د معا فيت پ‍ه هکله د درخواست په اړوند قطعي فيصله و کړي .
د معا فيت دپا ره په درخواست با ندي د فيصلي کو لو نه مخکې ، ممکن اجرا يه هيئت د نو رو اضا في معلو ما تو غو ښتنه و کړي.معافیت کیدای شی چه مشروط وي؛ و خت او دخد ما تو دلست پوري به محدود وي چې د معا فيت د ترلاسه کو نکو لخوا به تيار کړل شي او يا په تيا ر نه کړل شي.

**§3.1.1 استثنائات:**
کیدای شي چې د افغانستان بانك په استثنايي حالاتو لكه طبيعي مصيبتونه يا غير معمول معاملاتو كې د ځانګړو اسنادو د سپارلو يا د اسنادو د سپارلو د يوې ډلي لپاره ډول ډول مادي پړاوونه جوړ كړي. د مناسبي خبرتيا د جوړيدني څخه وروسته بايد عارض او هره بله ډله چې دافغانستان بانك يې ټاكي، نوموړې خبرتيا ترلاسه كړي.

**§ 4.1.1 تعريفونه**
الف: عریضه کوونکی: د شخص یا حقوقی شخص په معنا ده چې ددې برخې سره سم یې د افغانستان بانك ته کومه عریضه یا خبرتیا وړاندې کړې وي.
ب: عریضه: د یو عرض د تسلیمولو په معنا ده چې له د افغانستان بانك څخه د بهرنیو اسعارو د بدلولو د فعالیت او معاملاتو د اجازې غوښتونکې وي.
ج: دفبانك دافغانستان بانك او د هغه ټولې ځانګې.
د: جواز د يوه قانوني سند يا جوازليك په معنا دى چې د افغانستان د قانون سره سم وي او یوتن ته د سوداګرۍ اجازه ورکوي.
و: بهرني اسعار د افغانستان څخه پرته د نورو هيوادونو د رسمي روپيو په معنا دي.
ه: جواز د داسي يو رسمی سند يا اجازه لیك په معنئ ده چی د افغانستان د قوانینو له مخی ورکړل شوې او یو کس ته د تجارتی فعالیتونو د ترسره کولو صلاحیت وکړي.

**§5.1.1 د فورمو بشپړول**

د ضرورو فورمو بشپړول: عریضه کوونکی باید د قبول کیدو وړ یوه عرض پاڼه د افغانستان بانك ته بشپړه کړي تر څو د بهرنيو اسعارو په صرافی کې ورګډ شي.

د فورمونو بشپړونه: د فورمو د بشپړوني لپاره نمونه يي فورموي او لاربووني د افغانستان بانك د مالي کتني يعني نظارت د څانگي د جوازپاڼو په څانگه کې چې په ابن سينا واټ ، کابل ، افغانستان کې موقيعت لري، کې موجودې دي.

<u>**د ب ضميموی برخه- د جواز صادريدنه**</u>

**§۱.۲.۱ غوښتني**

هيڅوك نشي کولای چې د افغانستان بانك له خوا د ورکړل شوي جواز پرته د بهرنيو اسعار په صرافی کې ور ګډ شي.

د جواز د اخستلو لپاره يو کس بايد:

الف: لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ولري.

ب: د شخصي شتمنی لکه کور يا اپارتمان مالك واوسي.

ج: جواز بايد د يوه شخص په نوم ورکول شي او يوازي د صرافی په يوه ولايت کی په ډيرو ځايو کې د اعتبار وړ دی.

د: د دوو صرافانو له خوا چي لږ تر لږه درې کاله د صرافي تجربه ولري، تزکيه وشي.

و: د مالياتو د تحويلولو د ګڼي ټاکنه ولري.

**§۲.۲.۱. دامانت ايښودنه**

د بهرنيو اسعارو صرافان بايد د جواز د اخستلو څخه دمخه لږ تر لږه ۱۰۰۰۰۰ افغانی د دافغانستان بانك په يوه داعتبار وړ بانکي حساب کې غونډې کړي. دا پيسي په هغه صورت کې دوباره مستردېږي چي صراف په ټاکل شوي وخت کې خپله وظيفه ترك او هغه ټول قوانين چي د دافغانستان بانك له خوا د صرافي د بندولو لپاره وضع شوي دي، پلي کړي.

**§3.2.1 دغوښتنليك محتويات**

دباندني اسعارو په سوداګری کی دورګډيدو لپاره بايد داسی ليکلی عريضه لکه څنګه چه دافغانستان بانك يي په ډاګه کوی، وړاندی شی. هر غوښتنليك بايد لږ تر لږه لاندی معلومات ولری:

الف: دباندينو اسعارو دسوداګر نوم، دايمی ادرس،نيټه اود زکيږدلو ځای.

ب: دباندينو اسعارو دسوداګر دتذکرې نقل

ج: دباندينو اسعارو دسوداګر عکسونه

د: دباندينو اسعارو دسوداګر دسوداګرئ دشروع کيدنه نيټه.

و: دهغو ولاياتونو لست چه دباندينو اسعارو سوداګر پکي تجارت لری اويا غواړی چه پيل کړی.

ل: د دوو صرافانو له خوا چي لږ تر لږه درې کاله د صرافي تجربه ولري، تزکيه وشي.

ز: پخواني جوازليك دعملياتو لپاره.

س: دمالي دتحويلی نقل

ش: دکورنيو چارو وزارت دجنائي څانګی څخه دبرآت تصديق.

ص: دجوازليك دفيس داويز نقل.

ض: دجواز ليك لپاره اعتباری حساب کی امانت ايښودنه دافغانستان بانك سره.

**§4.2.1 دعريضي درديدو دلايل**

۱. د پورتني ۱.۲.۱ شمارې د شرايطو په پوره کولو کې پا تې راتلل،

۲. که چیرې دباندینو اسعارو تبادله کوونکي دلسوکلونو په مو ده په کوم جنا یي جرم متهم شوی وي ،
۳. که چیرې د بلندینو اسعارو معا مله کوونکی په تیرو لسو کلو نو کي د ما لي معا ملو په رابطه سر غړونې او نا څر ګند( مجمل) حسا بونه ولري،
٤. که چیرې درخواست کوونکي یا دبلندنیو اسعارو معا مله کو ونکي په هغو معلوماتو کې دروغ ویلي وي کوم چې ددي درخواست په رابطه تهیه شوي دي،
٥. که چیرې د بلندنیو اسعارو معامله کوونکي په تیرو درې کلونو کې د کوم کاري جواز پر خلاف عمل ترسره کړی وي،
٦. که چیرې د بلندنیو اسعارو معامله کوونکی په لسو ورځو کي د افغا نستان بانک لخوا د زیاتو معلو ماتو غوښتني ته په ځواب کې پاتې راشي او د همد غو
معلو ماتو د پا ره دریم ځل غو ښتنه وشي،
۷ . که چیرې ور کړل شوي معلومات نیمګړي او تیر ایستو نکي وي، یا
۸. که چیرې ورکړی شوي معلو مات د افغانستان د قانون او مقرراتو سره مطا بقت ونه لري.

**5.2.1§ دجواز نوی کیدنه**

د جواز د بیا نوي کولو لپاره باید د موجوده جواز د اعتبار د پای نیټي څخه لږ تر لږه دوه اونی دمخه د لاندنیو اسنادو سره د افغانستان بانك ته مراجعه وکړي:
الف: د بهرنیو اسعارو د صرافی د جواز کنده
ب: د عریضي د مخکي وړلو اجرت لکه څرنګه چې ددي قانون په ۱.۶.۱ کې راغلي دي.
ج: د پولیسو د سپارښت رپوټ چې عارض په هیڅ ډول غیر قانوني فعالیتونو کي دخالت نه لري. د بهرنیو اسعارو د صرافی جواز به هغه چاته نه ورکول کیږي چي یا خو په غیر قانوني فعالیتونو کې لاس ولري او یا هم د قانون د محکمي له خوا په حبس محکوم شوي وي..
د: د تذکرې فوټوکاپي.

**6.2.1§ تطبیقیدنه په بانکونو**

پورتني مقررات په هغو بانکونو او هم پر هغه بانکي څانګو نه تطبیقیږي چې دافغانستان بانك څخه یې جوازتر لاسه کړی وي.

**7.2.1 § دتجارت شروع کوونه**

د بهرنیو اسعارو هغه صرافان چي د دافغانستان بانك څخه جواز ترلاسه کوي، باید د جواز د ترلاسه کولو څخه وروسته په ۶۰ ورځو کي دننه دننه خپل رسمي کار پیل کړي. د بهرنیو اسعارو هغه صرافان چې خپل رسمي کار یې پیل کړی دی، باید مخکي تر دې چې د کار ۱۴ ورځې یې پوره شي، د خپل کار د پیل کیدو رپوټ د افغانستان بانك ته ورکړي.

**8.2.1 § دجواز موده**

جواز باید د یوکال مودې لپاره صادر شي.

**<u>د ج ضمیموي برخه-فعالیتونه</u>**

**۱.۳.۱§ مجوز فعالیتونه**

الف. د بهرنیو اسعارو د مجوزو صرافانو فعالیتونه به یوازې او یوازې د دوی دتعریف پورې محدود وي.

ب. د بهرنیو اسعارو صرافان اجازه لري تر څو د بهرنیو اسعارو په حراج (بولي) کي د د افغانستان بانك د قوانینو او مقرراتو سره سم ګډون وکړي.

**د (د) ضميموي برخه**

**§2.3.1 جبري فعاليتونه**

الف. د بهرنيو اسعارو صرافان بايد په افغانستان کې د بهرنيو اسعارو د بدلولو پورې اړوند ټول قوانين او مقررات و مني.

ب. د بهرنيو اسعارو صرافان بايد د افغانستان په يو له مجوزو سوداګريزو بانکو کې په هر ډول روپيو چې کاري پلان ولري، بانکي حساب ولري.

ج. د بهرنيو اسعارو صرافان بايد د نقدو روپيو لپاره مناسب ځای او امنيت ولري( د بيلګي په توګه پټ ځای او يا هم هغه ته ځيرمه ځايونه)

د. د بهرنيو اسعارو صرافان مکلف دي تر څو د بهرنيو اسعارو د پلورو او پيرودلو بيې او خپل نور اجرتونه د تختې پر مخ وليکي تر څو دا خبره يقيني کړي چې مارکيټ د شفافو او اغيزمنو بنسټونو سره سم کار کوي او مشتريان کولای شي چې د بيلابيلو صرافانو سره بيې په آسانی سره پرتله کړي.

ه. د بهرنيو اسعارو صرافان بايد د تختې پر مخ ليکل شويو بيو سره سم بايد د بهرنيو اسعارو پلورنه او پيرودنه وکړي بې له دې څخه چې دا په پام کې ونيسي چې افغاني بانك نوټونه پلورل او پيرودل کيږي.

و. د بهرنيو اسعارو صرافان بايد د خپلو ورځنيو راکړو ورکړو جزئيات په راجسترونو کې ثبت کړي او نوموړي راجسترونه بايد د دولت د مامور له خوا لاسليك او ټاپه کړل شي.

ل. د بهرنيو اسعارو صرافان بايد د بهرنيو اسعارو د صرافانو د ټولنې غړي و اوسي.

ي. د ټولنې د تاسيسي موادو (اساسنامې) يوه کاپي بايد دافغانستان بانك ته وسپارل شي.

ر: د بهر نيو اسعا رو معا مله کوونکي با يد د نا مشر وع لارو نه د پيسو دلاس ته راوړلو او بيا هغه پيسې په با نکي سيستم کې دداخلولو دا غيزنا ک مخنيوي دپا ره ټول هغه لازم اقدامات ترسره کړي کوم چې په دې اړوند د ا فغا نستان په مر بوطه قا نون کې تصويب شوي دي. په د غو اقداماتو کې لاندني شيان شامل دي ليکن ورپورې محدود نه دي :

- د مشتري د قبلو لو دپاره يو ه منا سبه کړنلاره او هغه حالات چې د مشتر يا نود مستر د کيدو سبب کرځی ،
- د مشتري دپيژندلي دپا ره يوه منا سبه ګرنلاره چې ګټه لا سته راوړونکی ما لک په کې شا مل دي هغه وخت چې نو موړی ما لک د مشتري نه فرق ولري ،
- د کا رکوونکو دوام داره تر بيه کو ل تر څو په دي و توا نيږي چې هغه معا ملې و پيژ ني کومې چې د نا مشروع لارو څخه د پيسو د لاس ته راوړلو او بيا په با نکي سيستم د هغو د دا خلولو اوپاکولو سره تړاو لري ،
- په هغه اړوند لا رښووني چې کا ر کوونکي با يد کوم اقدامات تر سره کړي کو م و خت چې دوي دا سي معا ملي و پيژني چې پيسې د نا مشروعو لارو څخه لاس ته راو ړل کيږي او بيا په با نکي حسا ب کی دا خليږي ،
- ا غيز نا ک دا خلي کنټرول او د مفا همي کړنلارې،
- د مالي تفتيش اداري او يا د را پو رونو د ورکولو کوم بل سا تن ځاي ته چې ممکن د ا فغا نستان د قا نون لخوا به مشخص کړل شي، د هغو مشکو کو معا ملو په اړوند چې افغا نستان بانک په مر بو طه قا نون او مقرراتو کې د و ضع شوي مقدار څخه لو ړ وي،

- د لا زمه را پورونو ورکول ،د معا ملو د ریکارد لا زمي سا تڼ .

**§ 3.3.1 ممنوع کارونه یعني فعالیتونه**

ددی مقرري څخه سرغړونه دجزا،دجواز دمعطل یا لغوه کیدو سبب کرځیدي شی.
الف. د بهرنیو اسعارو د صرافانو سوداګریز نوم نباید چي د بانك، مالي موسسه، پانګه اچونه، کمپنی، سوداګریزه کپمنی، غیر منقول ملکیتونه یا داسي نور توري چي د بهرنیو اسعارو د بدلولو څخه پرته د نورو راکړو ورکړو څرګندوونکي و اوسي، په ځیر توري ولري.
ب: د سوداګری نوم باید د ودانی څخه دباندي په څرګند ډول سره ښودل شوی وي.
ج. هیڅ یو د بهرنیو اسعارو د صرافانو څخه نباید چي ډیپوزیټ قبول یا پور ورکړي، که سود واخستل شي یا ورکړل شي.
د. هیڅ یو د بهرنیو اسعارو د صرافانو څخه نباید چي خپل جواز پرته د بهرنیو اسعارو د صرافی څخه د نورو مفادي کارونو د ترسره کولو د صلاحیت لپاره وکاروي.
و. د پورتنیو تحریماتو برسیره ، د بهرنیو اسعارو صرافان نباید چي:
په غیر رقابتي فعالیتونو یا د باندنیو اسعارو د بازار په انحصارولو لاس وهل ؛ په دغو فعالیتونو کښی شامل موارد چی پر هغوي محدود نه دي، د نورو صرافانو سره د بیی ټاکل ؛ نورو باالقوه سیالانو ته د ځمکی، دفتری ساحي، یا نورو نامنقولو جایدادونو د رسیدو (د مالکیت یا نورو ذرایعو له لاري) څخه مخنیوي؛ دغو آسانتاوو ته د عامه وګړو د لاس رسي مخنیوی.

د دغو فعالیتونو په اړه د نا سمو یا بی لاري کوونکو اشتهاراتو یا ویناوو خپرول.

<u>**د (ه) ضمیموی برخه- نظارت او رپوټ ورکول**</u>

**§۱.۴.۱ دافغانستان بانك لخوا نظارت**

دافغانستان بانك باید د بهرنیو اسعارو له صرافانو څخه نظارت وکړي. د نظارت موخه داده تر څو د قوانینو او مقرراتو اجابت ارزیابي کړي او کچیرې د جواز د لغو کولو امکان موجود وي، نو باید چي هغه وټاکي.

**§ 2.4.1 دنظارت کوونه**

د بهرنیو اسعارو د صرافانو په نظارت کې: د افغانستان بانك شاید د بهرنیو اسعارو د صرافانو له ټولني یا کومي بلي موظفي ډلي سره مرسته وکړي.
د بهرنیو اسعارو د صرافانو ټولنه یا بله ډله به موظفه وي تر څو:
الف: نظارت له پایلو څخه لاس ته راغلیو معلوماتو محرمیت وساتي او باید چي کلیدي شخص د محرمیت په هکله د قوانینو او مقرراتو د انتشار لپاره مسلکي وي.
ب: رپوټونه د افغانستان بانك ته وسپاري.

**§ 3.4.1 محاسبي سیستم**

د بهرنیو اسعارو معا مله کوونکی با ید د کا في حسا بو نو او په پوره انداز ه د حساب ثبت او سا تنه وکړي تر څو د ۱ . ٤ . ٤ شمارې لاندې درا پور ورکو لو شرایط پوره کړی.

**§4.4.1 راپور**

راپور دافغانستان بانك ته یابل ټاکل شوئ اداره باید مشتمل په:
ربع وار راپور دټولو معاملو اومقدار دمعاملو په مجموعي ډول او
ربع وار راپورد هغو انفرادي معاملاتو میاشتني لستونه چي د ۲۵۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات وي.
هرهغه څوك چه دپورته غوښتنو سره ځان اعیار نکړی،داجرا دعمل سبب ګرځي.

**§5.4.1 تفتیش او بررسي**

دبهرنیو اسعارو معامله کوونکو

د قو انینو او مقرراتو سره د بهرنیو اسعارو د معامله کوونکو د مطابقت، او دهغوي د پور ورکولو د و ړتیا د ارزیابي په صورت کې به د افغا نستان بانک د ساحې دداخل نه پلټنه او د سا حې نه بهر بررسی او تفتیش کوی.

<u>**د و ضمیموی برخه- د اجرا عمل**</u>

کچیرې د افغانستان بانک له قوانینو او مقرراتو څخه سرغړونه، یا دا چې د بهرنیو اسعارو یو صراف په غیر مصئونانه ډول کار کوي او یا هم نشي کولای چې پورونه ادا کړي، بیا مومي نو د افغانستان بانک شاید د اجرا اعمال پلي کړي. دا اعمال شاید مشتمل په یویا ټولو لاندنیو موادو وي:

**§1.5.1. لیلکی اخطار** : د اجرا د عمل لپاره لومړنی ګام صراف ته دلیلکي اخطار له صدور څخه عبارت دی. اخطار چې شاید د پلټنې د موندنو پر بنسټ صادر شوی وي، د بهرنیو اسعارو صراف ته خبرداری ورکوي چې نوموړی څه ډول غیر مصئونانه کار کوي او یا هم له قوانینو او مقرراتو څخه سرغړونه کوي.

**§2.5.1. د نظارت مکتوب او داصلاحاتو لپاره پلان** : کچیرې د بهرنیو اسعارو صراف په داوطلبانه ډول سره خپلې ستونزې نه په ګوته کوي، نو د افغانستان بانک دوهم ګام پورته کوي، چې د نظارت د مکتوب له صادرولو څخه عبارت دی. د نظارت مکتوب له صراف څخه یوه غوښتنه ده تر څو یو پلان د لیکلیو مشخصو نظریاتو سره یوځای د اصلاحي عمل د اجرا لپاره، د هغو ستونزو یا نګرانیو په مقابل کې چې د دافغانستان بانک له خوا ټاکل شوي وي، جوړ کړي. کچیرې د بهرنیو اسعارو صرافان ونشي کولای چې پلان تقدیم کړي، او یا هم د افغانستان بانک نوموړی پلان د قبلولو وړ نه بولي او یا هم بانک هغه اصلاحي عمل چې په پلان کې یې ژمنه شوې وه، د هغه سره سم نه تر سره کوي، نو په هغه صورت کې شاید د افغانستان بانک خپل پلان د اصلاحي اعمالو لپاره صادر کړي.

**§ 3.5.1د اصلاحي اعمالو د اجرا کولو لپاره پلان** : کچیرې پورتني تدابیر له ناکامۍ سره مخ کیږي، نو په هغه صورت کې د افغانستان بانک شاید د اصلاحي اعمالو یو پلان صادر کړي چې د هغه سره سم به د بهرنیو اسعارو صراف موظف کیږي تر څو د نظارت یوې موافقې ته داخل شي. د نظارت موافقي د دافغانستان بانک او د بهرنیو اسعارو د صراف تر مینځ له رسمي لیکل شویو موافقو څخه عبارت دي. د افغانستان بانک شاید د نظارت موافقه وکاروي تر څو د بهرنیو اسعارو صرافان موظف کړي تر څو د قانون او مقرراتو څخه هر ډول سرغړونه یا هم غیر مصئون کار ودروي. نوموړې موافقې شاید د هر ډول موجوده سرغړونې، اداري یا کاري نقایصو، یا د نورو نادرستو کارونو لپاره مثبت اصلاحي عمل لازم و بولي.

**§4.5.1 د توقف (ودرونې) اولاس اخستنې فرمان**: کچیرې د نظارت موافقه پلي نشي او اصلاحي عمل ته هم په بیړې سره اړتیا وي نو د افغانستان بانک شاید د توقف او لاس اخستنې فرمان صادر کړي. دا فرمانونه شاید له صراف څخه د بیلابیلو کارونو د منلو یا ودرونې غوښتنه وکړي.

**§5.5.1 د غونډې جوړول:** د افغانستان بانک باید مخکې تر دې چې د نظارت لیك، د نظارت موافقې، یا د بهرنیواسعارو د صراف سره د توقف او لاس اخستنې فرمان ته ور ننوځي، د بهرنیو اسعارو صراف ته باید (دجریمو یوه خبرتیا) چې د سرغړونې یا د پورونو د اداکولو \تسویه پذیری د حقایقو څرګندونکې وي ، ور واستوي او د صراف سره د جریمو د خبرتیا څخه وروسته د څلورو اونیو په موده کې د جریمو د مطرح کولو په منظور باید یوه غونډه جوړه کړي.

**§6.5.1 د توقف (ودرونې) او موقتي لاس اخستنې فرمان** : کچیرې د بهرنیو اسعارو د صراف د پورونو د اداکولو قدرت ډیر زیات له ګواښ سره مخ شوی وي او یاهم د افغانستان بانك ونشي کولای چې د سوابقو له مخې د بهرنیو اسعارو د صراف حقیقي حالت وټاکي، نو په هغه صورت کې د افغانستان بانک کولای شي چې مخکې له

غونډې څخه د توقف او لاس اخستني فرمان صادر کړي. د بهرنيو اسعارو صراف کولای شي چې د مالي خدماتو له محکمې څخه غوښتنه وکړي تر څو نوموړی فرمان لغو يا باطل کړي.

**§۷.۵.۱ د بهرنيو اسعارو د صراف د جواز باطلول (لغو کول يا فسخ کول)**

د بهرنيو اسعارو د هغو صرافانو جوازونه چې په جرمي فعاليتونو کې ذيدخل او يا هم محجور ثابت شي، او يا هم هغه شمير فعاليتونه يا معاملات کې چې د قانون او مربوطه مراحلو مخالف ثابت شي، نو شايد د افغانستان بانک له خوا فسخ (باطل) شي.

کچيرې د بهرنيو اسعارو صرافان په خپلو بانکي حسابونو کې کافي روپۍ و نلري نو نبايد په عين رايجو پيسو کې چك صادر کړي. دداسې واقعې په صورت کې ، د لومړي ځل لپاره بايد د افغانستان بانك له خوا يوه ليکلی خبرتيا صادره شي او کچيرې دا عمل ددوهم ځل لپاره واقع کيږي نو د صراف جواز بايد فسخ (باطل) شي.

## د ی ضميموی برخه-مختلف او انتقالی حکمونه

**§۱.۶.۱ اجرتونه**

عارض بايد د عريضې د مراحلو اجرت د افغانستان بانك ته ورکړي.

د لومړني جواز اجره به ۶۰۰۰ او د هر ځل تجديد (نوښت) لپاره ۳۰۰۰ افغاني وي.

**§2.6.1 انتقالي مقررات (قوانين):**

الف. د بهرنيو اسعار هر هغه صراف چې ددې قانون له ترويج کيدو څخه د مخه يې جواز ترلاسه کړی وي، بايد خپل جواز د ۱۳۸۲ کال حوت مياشتې له ۲۵ مې نيټې څخه دمخه ترلاسه کړي.

ب. د بهرنيو اسعارو هغه صرافان چې جوازونه يې له ميعاد څخه اووښتي وي، او يا هم هيڅ جواز نلري، بايد ددې قانون له ترويج څخه وروسته د لسو کاري ورځو په موده کې د جواز اخستلو لپاره عريضه وسپاري د تخلف په صورت کې به د بيړني توقيف او ۲۰۰۰۰ افغانيو جريمې سره مخ شي.

ج. ددې مقرراتو د تصويب څخه وروسته د بهرنيو اسعارو د صرافانو (******) ګنه مقررات د اعتبار وړ نه دی.

د: دغه مقرره د افغانستان بانك د منظوري څخه وروسته نافذه او په رسمي جريده کښې به خپريږي.